# دموشګاف عبدالحمید اسلامي فکر

(Review of Islamic Thoughts in Mushigaf Abdul Hamid Poetry)

*Dr Abdul Hakim Shah Khattak* ♠
E.mail gulhakim@gmail.com
Phone# 03459801699


## Abstract:

**Abdul Hameed Baba is the shining star of Pashto literature. He lived between 1075- 1150 Hijri. He is well known for romantic and love poetry, but study of his verses reveals that he was well versed in Islamic teaching. In this research paper his poetry is perceived in Islamic point of view.**


اسلام په ګړده نړۍ کښې د ټولونه لوئے، اوچت اوغوره مذهب دے-دژوندټوله فلسفه په کښې رانغښتې شوې ده-دژوندهررازمسائل حل کولووړیااوبشپړه قوت لري-دکړۀ او نۀ کړۀ (اوامراونواهی) په بنياددعمل کولواودځان ژغورنې درس ورکوي-دعمل کولواو دځان ژغورنې په دې درس کښې اخلاقيات يوه غټه موضوع ده-

اخلاق دخُلق جمع ده-خُلق په معنی دخُو،خوبۍ،عادت او خصلت راځي-که دا ښۀوي او که بد،ښواخلاقوته اخلاق حسنه اوبدواخلاقوته اخلاق رذيله وائي،خوپه ځلورکنجه دنيا کښې به داسې مذهب نۀ وي چې دښواخلاقوستائنه اوبدواخلاقوغندنه ئې نۀ وي کړې يائې نۀ کوي-ان تردې چې داسلام نه وړاندې ديونان پوهانوزيبااخلاق دحسن معيار ګڼلو-داول ورځ نه ترننه پورې چې څومره انبياء تېرشوي دي ټولودښواخلاقودرس ورکړې دے،اوچې څومره نېک خلق اوسېږي اوس هم وخت په وخت د ښواخلاقو لار ښودنه کوي-

داسلام نازلېدواودحضرت محمد  دراتګ نه پس الله پاک په خپل پاک کلام کښې "﴿وَاِنّکَ لَعَلٰی خُلُقٍ عَظِیْمٍ﴾"١، سره موصوف شوي انسان داطاعت په لړ کښې فرمائي:-

 ﴿لَقَدْ کَانَ لَکُمْ فِیْ رَسُوْلِ للهِ اُسْوَۃٌ حَسَنَۃٌ ﴾٢،،

ژباړه:- په تحقيق سره تاسودپاره درسول الله صلی‌الله علیه‌وسلم ژوندبهترينه نمونه ده-

---

♠ Lecturer in Pashto Govt Degree College Banda Daud Shah (Karak)

دغه موصوف شوې انسان سرورکائنات حضرت محمد ﷺ دښو اخلاقو په لړ کښې فرمائي:-

﴿ اِنَّ مِنْ خِيَارِكُمْ اَحْسَنَكُمْ اَخْلَاقاً﴾۳،،

ژباړه:- بې شکه په تاسو کښې هغه کس بهتر دے چې په اخلاقو سره ښائسته وي-

په يو بل حديث کښې فرمائي:-

﴿ بُعِثْتُ لِاُتَمِّمَ حُسْنَ الْاَخْلَاقِ﴾ ۴،،

ژباړه:- زۀ دښو اخلاقو پوره کولو دپاره رالېږلے شوې يم يعنی زمابعثت دښو اخلاقو دتعليم ورکولو دپاره شوے دے-

داخلاقياتو دغه حکمونه او فضيلتونه دحضور ﷺ دزمانې اودهغې نه روستوټولو مسلمانانو ته دي-بائد چې مسلمانان ددې حکمونو او فضيلتونو لاندې ژوند تېر کړي اويو بل ته ددې درس ورکړي-دنړۍ په دې مسلمانانو کښې پښتانۀ من حيث القوم په مجموعي توګه مسلمانان دي-په دې مسلمانانو کښې داسې کسان تېر شوي دي اوشته چې وخت په وخت ئې داسلامي فکر په تتبع کښې دښو،ښايسته او شائسته اخلاقو خپلولو او د بدو اخلاقونه ځان ژغورنې درس ورکړې دےاو اوس ئې هم ورکوي-حميدبابا دپښتون قام يو وګړے وو چې دشعر په ژبه ئې خپل اسلامي فکر ښکاره کړې دے- هغه که يو طرف ته عشقيه شاعرۍ کښې "موشګاف،،ته رسېدلے دےنو بل اړخ ته دنوم داغېزنه داخلاق حميده غټ مبلغ اومدرس ښکاري-

حميدبابا په خپل کلام کښې ددنيا ناپائيدارۍ، دزرپرستۍ،زورګيرۍ غندنې،قناعت او داسې نوروښو اخلاقو درس ورکړې دے-په دې وړوکي شان مضمون کښې دحميدبابا اسلامي فکر ته پام کوو-

۱:- ددنيا ناپائيداري:-

دنيا ته ثبات نشته،قرارنشته،يوه ورځ به دادنيا ختمېږي-ددنيا بې ثباتي الله پاک په قرآن پاک کښې داسې ښکاره کړې دی،اوفرمائي :

﴿اِنَّمَا مَثَلُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ مِمَّا يَاْكُلُ النَّاسُ وَالْاَنْعَامُ حَتّٰى اِذَا اَخَذَتِ الْاَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ

اَهْلُهَا اَنَّهُمْ قٰدِرُوْنَ عَلَيْهَا اَتٰهَا اَمْرُنَا لَيْلاً اَوْنَهَارًا فَجَعَلْنٰهَا حَصِيْدًا كَاَنْ لَّمْ تَغْنَ بِالْاَمْسِ﴾ ۵،،

مطلب دا چې ددنیاژوند خوداسې دے،لکه څنګه چې مونږ داسمان نه اوبۀ رااورولې، بیاددې اوبو نه دمزکې ونې بوټې چې انسان او څاروي ئې خوري،ښۀ ګڼ زرعون شول ان تردے چې زمکې پوره ښائست ونیوۀاوښه ښائسته شوه- اودزمکې مالکانوداګڼله چې اوس مونږ په دې قابض یو-نو په دې حالت کښې دشپې یادورځې زمونږطرف نه څۀ حادثه راغله، نومونږداسې صفاکړل لکه پرون دلته بیخي هېڅ نۀ وو۔

ددنیابې ثباتئ ذکرحضرت علیکرم الله وجهه داسې کوي:-

ے ''انماالدنیافنا لیس للدنیا ثبوت

انماالدنیاکبیت نسجته العنکبوت

ولقدیکفیک منها ایها الطالب قوت

ولعمری عن قلیل کل من فیهایموت۶،،

مطلب دا چې دادنیا فناکېدونکې ده-ددې همېش والې نشته-ددې مثال دغڼې جاله ده- ددې عمرډېرلږدے- په دې کښې به هریومري-

دپښتوپلارخوشحال خان خټک ددې فاني دنیاباره کښې داسې وائي:-

ے ''راشه زړۀ ورپورې مه تړه نادانه

که ئې ګورې دافاني دنیادني ده ۷،،

داخلاقیاتوخبره به وي اورحمان بابا په کښې نۀ وي، نورحمان باباوائي:-

ے ''عاقبت به داجل په مقراض غوث شي

پېوسته به مدام نۀ وي تاردعمر۸،،

حمیدبابائې داسې څرګندوي:-

ے " نهٔ زمــــاده نهٔ دستـــاده دادنیا

پاتې شوې لــــه هرچاده دادنیا

مروت داشنائي پکښې څهٔ نشته

که اشنـــــاده، نااشناده دادنیا

په رڼا ئې دچاکارنهٔ پوره کېږي

داسمان برق اوبربښناده دادنیا

بې هوده ئې زړهٔ تړې په ډنګ ډونګ پورې

دګـــړۍ مېلــــمنــــه وراده دادنـــيا ۹، ،

په بل ځائے کښې داسې وائي:-

" هسې ځان ګڼه روان له دې جهانه

لکه اوښکې دښوپښه پـــه رکاب۱۰، ،

یو بل ځائے کښې داسې وېنا کوي:-

ے " دنابودې دنیابودبرق وبربښناده

نشي زبرمه دبربښنا په رڼا هېـــڅ

دا نیمګړي هېچانهٔ ده پوره کړې

تربربښنائي زیاته نهٔ ده بقاهېـــڅ۱۱، ،

یو بل ځائے کښې خپل فکرداسې څرګندوي:-

ے "ددنیـــالـــه سرایه تلـهٔ دې لـــه ارمـانه

که پنځهٔ کاله ژوندون وي که پنځوس۱۲، ،

ددنیابې ثباتي داسې هم ذکرکوي:-

ے " چې امېدپه فــــاني دهردبقاکړے

دام دې تشه بادبېزي کړه وئے نغاړه

دم قــــدم لکه کــمر دشګـــورژي

دنابودعمرپه بـــودباندې مه ويارړه۱۳،،

**۲:دزرپرستۍ غندنه:-**

دزرويعني مال ودولت بندګي کولوته زرپرستي وائي- مطلب داچې مال ودولت ته دومره مقام ورکول اوورپورې زړۀ تړل چې دالله تعالٰی بندګي دبنيادم نه پاتې شي اوبنده دمال غلام جوړشي-ددې متعلق الله پاک په قرآن پاک کښې فرمائي:-

{يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰه} ۱۴،،

ژباړه:- اے ايمان والو!ستاسومالونه اواولادچې تاسودالله تعالىٰ دیادنه غافله نۀکړي-

په يوبل آيت کښې الله تعالٰی فرمائي:-

{اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ} ۱۵،،

ژباړه:- مال اودولت ددنيازينت اوښائست (ظاهري ښائست)دے اونيکۍ پاتې کيدونکې دي-

په دې لړکښې حضور ﷺ فرمائي:-

((لُعِنَ عَبْدُ الدِّيْنَارِ، لُعِنَ عَبْدُ الدِّرْهَمْ)) ۱۶،،

ژباړه:- ددينار اودرهم په غلام لعنت شوې دے-

په بل ځائے کښې حضور ﷺ فرمائي:-

((حُبُّ الدُّنْيَا رَأسُ كُلِّ خَطِيْئَةٍ)) ۱۷،،

ژباړه:- ددنيامينه د ټولوخطايانوسردے-

ددې آيتونواوحديثونو په حقله مفسرين اومحدثين فرمائي چې ددې دامطلب داګنړل نۀ دي پکارچې مال في نفسه بددے-بدوالي هغه وخت دے، چې ددې مينه زړۀ ته کوزه شي- که په زړه کښې دالله تعالىٰ يوېره وي نو په مالدارۍ کښې څۀ زيان نشته-دخدائے پاک نه وېره،دې سره خومال اودولت نعمت اوغنيمت دے-

حميدبابادزرپرستۍ په غندنه کښې دخپل اسلامي فکرنيلے دشعرپه ډګرداسې زغلوي:-

ـہ " دقارون دبـدبـوئې مې خـــوا کهيږي

ځـکه تـــو کړېدد نيـــا په سيم وزرمـــــا

څڅلوئي په ماحميد څوک په دولت کا

چې شمېرلې د ےدولت په ګورخرما ۱۸، ،

ـہ " ترګدا يه سردرددبادشاه ډېر وي

هغه غــــم کړه دګليم دادا قليم ۱۹، ،

" ددنيادمـــال پـــه تللودلګيرمـــــۀ شـــــه

مات ازغي دِله پښوخېژي زهيرمــــۀ شــــه

وايه سپک ښۀ د ےکه دروند دسرپېتورے

فقيـــــري درلــــره ښه ده اميرمــــۀ شـــــه ۲۰، ،

دانايان په دنياښښته سره نـــــۀ کا

داپه داچې په مرداره سګان ښښلي ۲۱ ، ،

**۳**: زورګيري:-

ظلم،جبرته زورګري وئيلې شي- دظلم تعريف څۀ داسې شوې د ے- " وضع الشئ فی غير محله، ، دظلم په لړکښې الله تعالیٰ فرمائي:-

﴿وَلَاتَحْسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلاً عَمَّايَعْمَلُ الظّٰلِمُوْنَ﴾ ۲۲، ،

ژباړه:-اوظالمان خلق دې هرګزداګمان نۀ کوي چې دوئې کوم کارونه کوي،الله تعالیٰ د دوي نه غافله د ے-

په بل آيت کښې الله تعالیٰپه ظالمانولعنت وئيلې د ے-

﴿اَلَالَعْنَةُ للّٰهِ عَلَى الظّٰلِمِيْنَ﴾ ۲۳، ،

ژباړه:- خبردار! الله تعالیٰ په ظالمانولعنت کړې د ے-

دظالمانو په اړه حضور ﷺ فرمائي:-

ﷺ ((اَلظُّلْمُ ظُلُمَاتُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ)) ۲۴،،

ژباړه:- ظلم به دقيامت په ورځ تيارۀ وي- مطلب دا چې ظالم به دقيامت په ورځ په تيارو کښې وي- په يو بل حديث کښې حضور ﷺ فرمائي:-

ﷺ (( اِتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُوْمِ فَاِنَّهَا لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ للهِ حِجَابٌ ))۲۵،،

ژباړه:-دمظلوم بد دعانه ځانونه وژغورئ، ځکه چې دمظلوم بد دعا او دالله تعالیٰ تر منځه پرده نشته-

ددې آياتونو او حديثونو په رڼا کښې حميد بابا دظلم غندنه دا سې کوي:-

ـه " ثوبه خورې پردي مالونه په ستـــم
يوه ورځ به دي په نس کښـــې شي اړم
دمظلوم دمال روټۍ خپله بوټۍ خورې
مه شه هيڅ په دا خوراک خوښ اوخرم
دستم په دام درم مـــــــــه هوسېږه
مه کړه خدائے مار اولړم دچــــاهمدم
چرې نۀ شے دهاتهي ترقــــــدم لاندې
په عاجزمچ اومېږي مه ږده قــــــدم
زرپه زربه دې ديوال دعمــــرپربوځي
چې په زدوي دمظلوم داوښــــوزَيـَم*[1]
دظالم دوداني مــخ په ورانـــــۍ دے
داخبــــردې په جهان کښې مســــلم ۲۲،،

ـه " دمظلــــــوم دازارغشي رسالګي

[1]* زيـام

هېڅ ګوذارئې خطانۀ درومي عبس
هرسړےچې له ازاره بـازار غواړي
ددارو په طمع زهـــــرخوري ناکس ۲۷، ،

ے " دمظلوم دآه ازارچاتـــه ومۀ شه
عالمونه ئې ورانېږي له ارخېنه ۲۸، ،

۴:قناعت:-

دخدائے پـاک پـه ورکړې صبرکول اوشکرکول قناعـت بللے شـي-قناعـت هغـه صـفت دےچې انسان ته عظمت وربخښي-په دې بارې کښې حضور فرمائي:-

(( مَاقَلّ وكَفٰى خَيْرٌمّمّاكَثُرَوَاَلْهٰى ))۲۹، ،

ژباړه:- چې کـوم مـال کـم وي اوکفايت کـونکےوي بهتردےدهغـي مـال نـه چې ډېروي غافله کونکے وي-

محدثين فرمائي چې په دې حديث کښې دمال حرص مذمت شوې دے-ځکه چې دمـال حرص دانسان په طبيعت کښې موجوددے-که چرته قابوئې نۀ کړي نوشپه ورځ په مـال پسې لګيا وي-داسې انسان له خبرتياورکړې شوې ده چې انسـان دې پـه لـږ څۀ بانـدې قناعت کوي-

په يوبل حديث کښې راغلي دي:-

(( مَاعَالَ مَنِ اقْتَصَدَ )) ۳۰، ،

ژباړه:- څوک چې منځګړې خرچه کوي کله به محتاج نۀ شي-
مطلب دا چې زيات خواهش نۀ کوي په لږڅۀ قناعت کوي-
په دې لړکښې خوشحال خان ختک وائي:-

ے ''چې سړےله غمه خلاص کا
هغه څۀ دے قناعت دے۳۱، ،

په بل ځائے کښې خوشحال خان خټک وائي:-

ے "دحرص سترګې مړې په قنـــاعت کړه
چې په کور کښې دِانبار شي دولتونه ۳۲،،

په دې اړه حمید بابا خپل فکر داسې څرګندوي:-

"قناعت هسې دولت وحمــید ورکړۀ
چې بادشاه ګڼې تر ځـــانه بې نـوا ۳۳،،

"قناعت مې اشتهاکړه هسې صافه
چې اوګره راکوي خوند لکه حـلوا ۳۴،،

"قناعت دحمیدزړۀله غمه خلاص کړ
بـاد اثــرنه کړي په شمع دفــانوس ۳۵،،

په یو ځائے کښې خودالله تعالینه د قناعت دعاداسې غواړي:-

"قنـاعت راتــه عطاکړے زماربــه
ورک زماحرص وهواکړے زما ربه ۳۶،،

**۵**: اخلاص:-

اخلاص دیوداخلي کیفیت نوم دے-خوبیاهم ددې تعریف څۀ داسې کېږي،چې اخلاص درشتونې مینې اوجذبې نوم دے-اخلاص هغـه سـاحر دےچې ټولـه دنیامسـحرکولې شي-په دې لړکښې حضور فرمائي چې الله تعالیٰفرمائي:-

**﴿الاخلاص سرمن سری استودعته قلب من احببتُ من عبادی﴾**

۳۷،،

ژباړه:- اخلاص زمادرازونونه یورازدے زماپه بندګانوکښې چې چاسره زۀ مینـه کـوم د هغوي په زړونوکښې مې ودیعت کړې دے-

داخلاص بارې کښې خوشحال خان خټک وائي:-

هـــر سړےچې داخلاص په لارې درومي

که هرڅوپه غرونودرومي نۀ به نغومي ۳۸، ،

ـه ''یوسجودپه اخلاص ښۀ دے
نـــۀ سل زر پـــــه ریــــا ۳۹، ،

په دې حقله حمیدباباخپل فکرداسې څرګندوي:-

" که ئې ښو لـــره رانغے زۀ ضامن یم
که څوک دِ پرله درنده کاندې اخلاص
هغه کار چې سحــرګر کاندي په سحر
تر هغه ئې څوچـــنده کاندې اخلاص
سم دلاسه زوړکافـــــــــردسلوکالو
وَ اسلام ته خواهنده کانـدې اخلاص ۴۰، ،

**۲: دنفس پرستۍ غندنه:-**

نفس دانسان دننه یوقوت دے-چې دانسان نه دخبریادشرخواهش کوي-دنفس خبر منـونکي نمانځنــه اودشـرمنونکي(نفس پرســتۍ) غندنــه شـوې ده-دپـاک اوناپـاک نفسونوپه حقله الله تعالی په قرآن پاک کښې فرمائي:-

{قَدۡ اَفۡلَحَ مَنۡ زَکّٰهَا ¤ وَقَدۡ خَابَ مَنۡ دَسّٰهَا ¤} ۴۱، ،

ژباړه:-پـه تحقیـق سـره کامیـاب شـوهغه کـس چـاچې پـاک کړوخپـل نفس، اونـامراده شوهغه کس چاچې سخاکړو-

نفس پرستي یوداسې رنځ دے-چې دښواوبدوترمنځه فرق ختموي-نارواسړي تـه روا کړي- نفس پرست همېشه خواراوذلیل وي-په دې لړکښې حضور ﷺ فرمائي:-

(( اَلۡکَیِّسُ مَنۡ دَانَ نَفۡسَهٗ وَعَمِلَ لِمَابَعۡدَالۡمَوۡتِ وَالۡعَاجِزُمَنۡ اَتۡبَعَ نَفۡسَهٗ هَوَاهَا وَتَمَنّٰی عَلَی للّٰه)) ۴۲، ،

عقل منددے هغه څوک چاچې خپل نفس تابع کړې وي اودمرګ نه روستوژونددپاره عمـل وکـړي، اوکـم عقـل دے هغــه څـوک کـوم چــې دخپلوخواهشـاتو(نفس)تابع وي، اودالله تعالیٰ نه امید ساتي-

محدثین فرمائي چې ددې حدیث نه دامراد دےچې عقل مند دےهغه څوک، څوک چې په ژوندکښې دخپل قول وفعل محاسبه کوي، که چرته نېک اعمال ئې ډېروي نوشکراو باسي اوکه چرته بداعمال ئې ډېروي نوتوبه ګارشي-

په دې اړه خوشحال خان خټک وائي:-

"یو قدم چې په خلاف د نفس روان شي
په هغه زمان ولي هغه انسان شي
چې دنفس په حکم درومي هغه خواروي
سرېتوب ورځخه مۀ غواړه شیطان شي۴۳،،

حمیدبابائې داسې غندنه کوي:-

"دهر چاچې شي مفتي نفس اوهوا
ناروا شي دجهان ورته روا
نفس شیطان چې دچابدترفهمه بنۀ کا
هسې خوري زهر قاتل لکه حلوا۴۴،،

"کوڼ اوړوند کړے هسې رنګ نفس وهوا
چې لرې سره رواونارروا
نۀ به تۀ سرکشه نفس په بدومورکړے
نۀ به شي زهر قاتل دچادوا۴۵،،

"په هواپسې دنفس شتابي مۀ کړه
ځان به ورک کالکه برق په داشتاب۴۶،،

۷:دصحبت اثر:-

دتجربې نه ثابته ده چې په بنده باندې خامخادمجلسیانو اثرپربوځي-که چرته دسړي ملګري نېک اوصالح وي نودغه سړے به نېک اوصالح وي-که یوبنده دبدوخلقوسره کښېني پاڅي نودغه بنده به بداخلاقه وي-په دې حقله حضور ﷺ فرمائي:-

ﷺ''(( اَلْوَحْدَةُخَیْرٌمِّنْ جَلِیْسِ السّوْءِ،وَالْجَلِیْسُ الصّالِحُ خَیْرٌ مِّنَ الْوَحْدَةِ)) ۴۷،،

ژباړه:- دبدومجلسیانونه یواځې کښېناستل ښهٔ دي اویواځې کښېناستونه د نېکو خلقوسره کښېناستل ښهٔ دي-

محدثین فرمائي چې په دې حدیث کښې وئیلي شوي دي چې سړے دې دنېکوخلقوسره کښېني که چرته ښهٔ مجلسیان نهٔ ملاوېږي نویواځې دې کښېني ځکه چې شریعت اجازت نهٔ ورکوي چې سړے دې دغلطوخلقوسره کښېني اوخپل عقائداواعمال دې خراب کړي- په یو بل حدیث پاک کښې حضور ﷺ فرمائي:-

ﷺ''(( وَ مَثَلُ جَلِیْسِ الصّالِحِ کَمَثَلِ صَاحِبِ الْمِسْکِ اِنْ لَّمْ یُصِبْکَ مِنْهُ شَيْءٌاَصَابَکَ مِنْ رِیْحِهٖ ، وَ مَثَلُ جَلِیْسِ السّوْءِکَمَثَلِ صَاحِبِ الْکِیْرِ اِنْ لَّمْ یُصِبْکَ مِنْ سُوَادِهٖ اَصَابَکَ مِنْ دُخَانِهٖ ))۴۸،،

ژباړه:- دنېک مجلسي مثال دصاحب مشک دے -که هغهٔ نه تاته مشک حاصل نهٔ شي دهغې خوشبوئي دررسي، اودبدمجلسي مثال دآهنګردےکه هغه تااونهٔ سوزوې په لوګي خو به دې تورکړي-

دصحبت اثرپه لړکښې خوشحال خان خټک وائي:-

ے ''هراستادسره چې کښېني یوځوورځې
دهغهٔ هنــــرپه دهٔ کښې نمایان شي
دنېکانوپه صحبت کښې به ښهٔ کېږي
اولیاء له اولیاء نه راعـــــیان شي۴۹ ،،

رحمان بابائې داسې بیانوي:-

ے ''په مجلس دعالمانوبه سرهٔ زرشي
که څوک کاڼې وي یالوټه دصحرا ۵۰،،

حمیدباباځهٔ داسې وائي:-

" هـــــر مجلس لري اثـــردښواوبــــدو
دامتـــــــل د ےدرښتينوپـــــه رښتيا
په يوۀ ساعت مجلس دناكــــــــسانو
افلاطون ترخولې اوباسي ماخـــوليا
شپون غوبه ځکه سنګدله وبلا ړۀشي
چې روزګارئې وي له کانـــــودبېديا
تېزتاثيرلري ترښـــــــــواثردبـــــــدو
داخـــــــــبره ازمــــوده ده په بيا بيا۱۵،،

## حوالہ جات(**References**)


۱:القرآن الکریم، سورۃ القلم،آیت نمبر۴

۲: القرآن الکریم، سورۃ الاحزاب،آیت نمبر ۲۱

۳:بخاری محمدبن اسماعیل، صحیح البخاري،دچاپ ځائےاوکال دارالمعرفه بیروت لبنان طبعه اولیٰ ۲۰۰۴ ء\ ۱۴۲۵ه،حدیث نمبر۳۵۵۹،مخ۹۰۷

۴: مالک بن انس موطاامام مالک، کتاب حسن الخلق،باب ۱، حدیث نمبر ۸، دچاپ ځائےاوکال جمیعه احیاءالتراث اسلامیکویت طبعه اولیٰ۱۹۹۸ء\۱۴۱۹ھ، مخ ۳۲۴

۵: القرآن الکریم، سورۂ یونس،آیت نمبر۲۴

۶: حضرت علی ؓ ،دیوان حضرت علی ؓ،مقدمه عبدالرحمٰن مصطاوي، دچاپ ځائےاوکال دارالمعرفه بیروت لبنان طبعه اولیٰ۲۰۰۳ء\۱۴۲۴ھ ،مخ ۵۰

۷:خټک خوشحال خان، ارمغان خوشحال، مقدمه سیدرسول رسا، دچاپ ځائےاوکال یونیورسټي بک ایجنسي پېښور دوئم ځل چاپ۲۰۰۱ء ،مخ۴۹۰

۸:رحمان بابا ،دیوان عبدالرحمٰن بابا، مقدمه سیدرسول رسا، دچاپ ځائےاوکال یونیورسټي بک ایجنسي پېښور ،مخ۱۴۲

۹: حمیدبابا ،دراومرجان، مقدمه تصحیح اواهتمام، ډاکټرسېدانوارالحق جیلاني، یونیورسټي بک ایجنسي
خیبربازارپېښور ،مخ ۲

۱۰: همدغه اثر، مخ ۱۱

۱۱: همدغه اثر، مخ ۲۴

۱۲: همدغه اثر، مخ ۳۹

۱۳: همدغه اثر، مخ ۹۰

۱۴: القرآن الکریم، سورۃالمنافقون،آیت نمبر۹

۱۵:القرآن الکریم، سورۃالکهف،آیت نمبر ۴۶

۱۶: ترمذی عیسی، سنن ترمذی، دچاپ ځائےاوکال دارالمعرفه بیروت لبنان ۲۰۰۲ء\۱۴۲۳ه ،حدیث نمبر ۲۳۵۷ ، مخ۹۳۵

۱۷: خطیب تبریزی ولی الدین ابی عبدالله، مشکوۃالمصابیح، دچاپ ځائےاوکال، دارالکتب العلمیه بیروت لبنان طبعه اولی ۲۰۰۳ء، جلدنمبر۳\۴،کتاب الرقائق، حدیث نمبر۵۲۱۳،مخ۲۵۰

۱۸: حمیدبابا ،دراومرجان،مخ۴

۱۹: همدغه اثر، مخ۲۱

۲۰: همدغه اثر، مخ ۹۳

۲۱: همدغه اثر، مخ۱۱۹

۲۲: القرآن الکریم، سورۂابراهیم،آیت نمبر۴۲

۲۳: القرآن الکریم، سورۂ هود ،آیت نمبر۱۸
۲۴: (الف)بخاري محمدبن اسماعیل، صحیح البخاري،دچاپ ځائےاوکال دارالمعرفه بیروت لبنان طبعه اولی ۲۰۰۴ء\ ۱۴۲۵هـ،حدیث نمبر۲۴۴۷(کتاب فیالمظالم و الغضب)مخ۷۳۱
(ب)ترمذي عیسی، سنن ترمذی، دچاپ ځائےاوکال دارالمعرفه بیروت لبنان ۲۰۰۲ء\۱۴۲۳ه ،حدیث نمبر ۲۰۳۰ ، (کتاب البروصله)،مخ ۸۰۸
۲۵: (الف) همدغه،حدیث نمبر۲۴۴۸ ،مخ۷۳۱
(ب) همدغه،حدیث نمبر۲۰۱۴ ،مخ۸۰۲
۲۶: حمیدبابا ،دراومرجان، مخ ۲۰
۲۷: همدغه اثر، مخ ۳۸
۲۸: همدغه اثر، مخ ۹۲
۲۹: خطیب تبریزی ولی الدین ابی عبدالله،مشکوٰةالمصابیح، دچاپ ځائےاوکال دارالکتب العلمیه بیروت لبنان طبعه اولی ۲۰۰۳ء، جلدنمبر۳\۴، حدیث نمبر ۵۲۱۸،مخ۲۵۱
۳۰:امام غزالی محمد ،احیاعلوم الدین،دچاپ ځائےاوکال دارالمعرفه بیروت لبنان،۲۰۰۴ء\۱۴۲۵ه،جلدنبر ۱مخ۱۰۹۲
۳۱: خټک خوشحال خان،ارمغان خوشحال ، مقدمه سیدرسول رسا ، دچاپ ځائےاوکال یونیورسټي بک ایجنسي پېښور دوئم ځل چاپ۲۰۰۱ء ،مخ۷۲۵
۳۲:همدغه ،مخ۵۷
۳۳: حمیدبابا ،دراومرجان، مخ۷
۳۴: همدغه اثر، مخ ۴
۳۵: همدغه اثر، مخ ۳۲
۳۶: همدغه اثر، مخ ۷۸
۳۷: امام غزالی محمد ،احیاعلوم الدین،دچاپ ځائےاوکال دارالمعرفه بیروت لبنان،۲۰۰۴ء\۱۴۲۵ه ، جلد نبر۲مخ۱۲۸۱
۳۸:خټک خوشحال خان،ارمغان خوشحال ، مقدمه سیدرسول رسا ، دچاپ ځائےاوکال یونیورسټي بک ایجنسي پېښور دوئم ځل چاپ۲۰۰۱ء ،مخ۷۲۲
۳۹:همدغه،مخ۵۲
۴۰: حمیدبابا ،دراومرجان، مخ ۴۳
۴۱: القرآن الکریم،سورة الشمس،آیت نمبر۹-۱۰
۴۲:ترمذی عیسی، سنن ترمذی، دچاپ ځائےاوکال دارالمعرفه بیروت لبنان ۲۰۰۲ء\۱۴۲۳ه،کتاب القیامة و الرقائق ، حدیث نمبر۲۴۵۹ ،مخ ۹۲۴
۴۳: خټک خوشحال خان،ارمغان خوشحال ، مقدمه سیدرسول رسا ، دچاپ ځائےاوکال یونیورسټي بک ایجنسي پېښور دوئم ځل چاپ۲۰۰۱ء ،مخ۷۷۱
۴۴: حمیدبابا ،دراومرجان، مخ۴
۴۵: همدغه اثر، مخ ۷

۴۶: همدغه اثر، مخ۱۱
۴۷: خطیب تبریزی ولی الدین ابی عبدالله،مشکوٰۃالمصابیح، دچاپ ځائے اوکال دارالکتب العلمیه بیروت لبنان طبعه اولیٰ ۲۰۰۳ء، جلدنمبر۳\۴، حدیث نمبر ۴۸۲۴،مخ۱۹۷
۴۸: ابوداؤدسلیمان ابن اشعث،سنن ابیداؤد،دچاپ ځائےداراحیاءالتراث العربیببیروت لبنان،جلدنمبر۴،کتاب الادب، حدیث نمبر۴۸۲۹،مخ۲۵۹
۴۹: خټک خوشحال خان، ارمغان خوشحال ، مقدمه سیدرسول رسا، دچاپ ځائےاوکال یونیورستي بک ایجنسي پښور دوئم ځل چاپ۲۰۰۱ء ،مخ۲۷۱
۵۰: رحمان بابا ،دیوان عبدالرحمٰن بابا، مقدمه سیدرسول رسا، دچاپ ځائےاوکال یونیورستي بک ایجنسي پښور ، مخ ۱۹
۵۱: حمیدبابا،دراومرجان، مخ ۲